## اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون غونډه

| | |
|---|---|
| **نېټه** | ۱۳۹۹کال، د لړم ۲۵مه |
| **ځای** | اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون دفتر، کابل، افغانستان |
| **د غونډې رييس** | د کمېسيون رييس او کمېشنر ښاغلی عين الدين بهادري |
| **ګډونوال** | د کمېسيون مرستیاله او کمېشنره آغلې نجيبه مرام، منشي او کمېشنر ښاغلی حمدالله اربا، کمېشنره آغلې زهرا موسوي او د دارالانشا رييس ښاغلی عصمت‌الله حيدري، د شکايتونو آمر ښاغلی رحمت الله پيروزي او د شکايتونو د تعقيب مدير ښاغلي سيد حسن حسيني. |
| **دغونډې تنظيمونکی** | آغلې فائزه رضايي |

اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون غونډه چې ۱۳۹۹کال، د لړم په ۲۵مه، یک شنبه د پورته ګډونوالو په شتون کې جوړه شوې و. په لاندې موضوعاتو بحث او د اندونو تبادله وکړه:

1. د کمېسيون د مشرتابه په غونډه کې، لومړی لاندې شکايتونو ته د رسېدنې لپاره بحث او خبرې اترې وشوې: د افغانستان مرکزي بانک، ستره محمکه، د صنعت او سوداګرۍ وزارت، ملي راډيو تلويزيون، د بهرنيو چارو وزارت، د چارو اداري عمومي رياست او دفاع وزارت؛ په پايله کې د هرې اداري په اړه په لاندې ډول پرېکړې وشوې:

- **د افغانستان مرکزي بانک:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه که چېرته په ټاکلي وخت کې د افغانستان مرکزي بانک غوښتل شوي اطلاعات، په صريح او ښکاره ډوله غوښتونکي ته ورنه کړي؛ د دې اداري د اطلاع رسونې مسوول ته ليکنی اخطاريه ورکړل شي.
- **ستره محکمه:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه همداشان که چېرته په ټاکلي وخت کې سترې محکمې غوښتل شوي اطلاعات، په صريح او ښکاره ډوله غوښتونکي ته ورنه کړي؛ د دې اداري د اطلاع رسونې مسوول ته ليکنی اخطاريه ورکړل شي او د دې سکالو په پار دې له ښاغلي رشيدي سره رسمي غونډه ترسره شي.
- **د صنعت او سوداګرۍ وزارت:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د صنعت او سوداګرۍ وزارت له وزير سره دې رسمي غونډه وشي ترڅو د شوي شکايت په هکله ورسره بحث او خبرې اترې وشي او پايلې ته ورسېږي.
- **ملي راډيو تلويزيون:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د افغانستان ملي راډيو تلويزيون او پژواک خبري اژانس سره د پېژندګلوۍ يوه غونډه ترسره شي؛ د شوي شکايت په هکله ورته يو ټاکلی وخت وټاکي چې ۱۳۹۹۱۸۱۲۷ سه شنبې ورځې پورې خپلې ټاکل شوې کړنې ارايه کړي.
- **د بهرنيو چار وزارت:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د خو غوښتل شويو اطلاعاتو او غوښتونکي ته د اطلاعاتو نه ورکولو په پار مکتوب ورته واستول شي او د اطلاع رسونې مسوول د تعويض غوښتنه دې وشي ترڅو کړنې په ښه او دقيق ډول پرمخ ولاړې شي.
- **ولسمشر سره ليدنه:** د کمېسيون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې له ولسمشر سره دې يوه ليدنه برابره شي ترڅو اطلاعاتو ته د لاسرسي کمېسيون د کړنو او ستونزو په هکله ورسره خبرې شي.

خانه چهارم، سرک ششم قلعه فتح الله، شهر کابل، کابل، افغانستان
www.askforinfo.af www.aic.gov.af info@aic.gov.af ۰۰۹۳(۰)۷۸۹۶۰۵۹۷۳

- **دفاع وزارت:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه ترڅو سکالو په جدي ډول وڅېړل شي او یو رسمي برېښنالیک ورته واستول شي.

2. **د کمېسیون غړو ته د دارالانشا ریاست رییس ښاغلي عصمت الله حیدري راپور:** په دې ناسته کې کار کړنو او کاري پرمختګونو باندې خبرې وشوې او په لاندې برخو کې پرېکړې وشوې:

- **د ۱۴۰۰ کال د نوي تشکیل بستونو لپاره د دندو لایحې جوړول:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د مالي کال تر پای ته رسېدو پورې د بشري سرچینو آمریت له نورو اړوندو څانګو سره په همغږۍ د ۱۴۰۰ کال تشکیل نویو بستونو لپاره د دندو لایحه ترتیب کړي ترڅو د وخت له ضایع کېدو مخنیوی وشي.
- **له دوه بریالي شویو سلاکارانو سره خبرې:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د ازادې سیالۍ له لارې دوه بریالي شویو سلاکارانو سره خبرې وشي( د ایمل یا اړیکې له لارې) او ښښنه ترې وغوښتل شي چې د یو لړ ستونزو له امله یې و نه شوای کړای چې و یې ګماري، همدارنګه ورته وویل شي چې راتلونکو فرصتونو کې لومړنی حق د دوی دی.
- **د کمېسیون عمومي پلان باندې کار:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه ترڅو د ۱۴۰۰ کال لپاره د کمېسیون عمومي پلان باندې د کمېسیون پنځه کلنې ستراتېژۍ په رڼا کې کار وشي او د مالي کال له پیل مخکې وروستی شي.
- **د ښاغلي حمدالله ارباب د خراب شوي موټر لېږد:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کمېشنر ښاغلي حمدالله ارباب خراب شوی موټر چې د یو ماین په واسطه ویجاړ شوی له امنیتي حوزې د کمېسیون تعمیر چې عدلیه پخوانی وزارت دی ولېږدوي.
- **د میاشتیني کرېډیټ ورکول:** د کمېسیون د مشرتابه غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کمېسیون ټولو ۴ او ۵ بست کارکوونکو ته د چارو پرمخ وړلو په پار د میاشتي ۵۰۰ افغانۍ کرېډیټ ورکړل شي.
- **له تعقیبي موټرو سره د دري ساتونکو غوښتنه:** د مشرتابه په غونډه کې پرېکړه وشوه چې د کمېسیون کمېشنر ښاغلي حمدالله ارباب او مرستیالې آغلې نجیبې مرام ته د محافظت ریاست لخوا د دولتي لوړ پوړو امنیت لپاره د دري تنو ساتونکو او تعقیبي موټر کرایه ونیسي.

درنښت

د کمېسون رییس ښاغلی عین الدین بهادري

د کمېسیون مرستیاله آغلې نجیبه مرام

د کمېسیون منشي او کمېشنر ښاغلی حمدالله ارباب

د کمېسیون کمېشنره آغلې زهرا موسوي

